AFGHAN GERMAN ONLINE
افغان جرمن آنلاین
http://www.afghan-german.com

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد انور آخړ ۲۰۲۱/۱۰/۲۷

# په ویتنام او افغانستان کې د امریکایانو جګړې

## (پرتلنه)

### یوولسمه برخه




**افغانستان:**

**د امریکایانو او متحدینو ماتي او د سولې هڅې:**

پوهیږو چې په جګړه کې کمزورۍ اړخ د سولې وړاندیز کوي خو په افغانستان کې ښاغلی حامد کرزی له آره سوله غوښتونکی کس ؤ، تل یې طالبانو ته ورونه ویل چې له امله یې شمالي ټلوالي، طالبان د کرزي ورونه (برادران کزری) بلل، ځینو یې ویلي وو:«کزری باید په دې خبره محاکمه شي!» په داسې حال کې چې د شمالي ټلوالې د جمعیت ګوند مشر استاد برهان الدین رباني همدغه طالبان چې هغه مهال په کندهار کې وو پرښتې بللي وې.

وروسته له هغې چې امریکایانو د پاکستان په ایبټ آباد کې اسامه بن لادن د ۱۳۹۰ل. ل، کال کې وواژه نو د پاکستان

او امریکا متحده ایالتو تر منځ اړیکي یو څه ترینګلې شوې او د امریکا متحده ایالتو د سنا مشرانو جرګې د بهرنیو

اړیکو د کمېټې مشر جان کیري د پاکستان او امریکا متحده ایالتو د راتلونکو اړیکو لپاره ځانګړي شرایط مطرح کړل،

نو د پاکستان لومړي وزیر او ولسمشر، روسیې او چین ته سفرونه وکړل.
په ورته وخت کې اوس د پاکستان پوځ له خپلې خاورې د خپلو ۳۰۰ تنو امریکایي کوماندويي روزونکو د ایستلو پریکړه وکړه، نو په داسې حالاتو کې امریکا متحده ایالتو له طالبانو سره د خبرو اترو لپاره په جدي توګه مخې ته شوه او له څه مودې راهیسې لږ تر لږه درې ځلې یې په قطر او جرمني کې له طالبانو سره په افغانستان کې د سولې د بهیر په اړه په داسې حال کې خبرې وکړې چې نه په کې د افغان دولت او نه هم د پاکستان لخوا څوک حاضر وو .
(پاکستان د سیاسي شاتګ په حال کې دی   https://tkg.af/pashto)

هغه وو چې ولسمشر حامد کرزي په ۱۳۸۹ل. ل، کال کې د یو فرمان پر بنسټ د سولې عالي شورا یو کمیسیون، د طالبانو د پخواني دښمن، استاد برهان الدین رباني په مشرۍ جوړ کړ، نوموړي کمیسیون (۶۸) غړي درلودل چې د استاد رباني په خبر، ډېری هغه جګړه ماران وو چې د طالبانو پر وړاندې جګړیدلي وو، د سولې د کمیسیون د لګښتونو په موخه د امریکا متحده ایالتو ولسمشر اوباما پنځوس میلیونه ډالرو منظوري هم ورکړه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

يو کال وروسته د سپتامبر په ۲۰/ ۲۰۱۱ز، کې استاد برهان الدين رباني د طالبانو په يو انتحاري بريد کې ووژل شو، ولسمشر حامد کرزي د سولې د شهيد ستاينوم (لقب) ورکړ. استاد رباني غوښتل نور وژغوري، نه يوازې دا چې نور يې ونه شول ژغورلی بلکې په خپله ووژل شو.

**د ګيدړو ښکار يې که په زمري پيښ شو**
**په بري پسې روان په لړې پيښ شو**
(حميد بابا)

ډېره حيرانوونکې ده چې ولسمشر کرزي د استاد رباني له وژلو وروسته، د سولې عالي شورا مشري هغه چا ته ورکړه چې څو ورځې وړاندې يې پلار د هغه چا له خوا وژل شوی ؤ چې دی، د روغې جوړې هيله ترې کوي، هغه کس د وژل شوي استاد رباني زوی صلاح الدين رباني ؤ، بيا هم په زړه پورې خو لا دا ده چې صلاح الدين رباني هم، دغه دنده په خوشالۍ سره ومنله.
له هغې ورځې چې استاد رباني د سولې د عالي شورا مشر ؤ له رېښتينو طالبانو سره يې يو ځل هم ناسته ونه کړه، په وروستي ځل چې يو تن د طالبانو د استازي په نوم راغلی ؤ، هغه کس د سولې په موخه نه ؤ راغلی بلکې دی ده په مرګ پسې راليږل شوی ؤ.
صلاح الدين رباني د خپلې دندې تر پايه، لکه د خپل پلار په څېر د مخالفينو مخ ونه ليد، نو کله چې صلاح الدين رباني د ولسمشر اشرف غني او ډاکټر عبدالله په دوه سري حکومت کې د بهرنيو چارو وزير وټاکل شو د سولې عالي شورا بې مشره پاتې شوه تر دې چې ولسمشر غني په ۱۳۹۴ل. ل، کې پير سيد احمد ګيلاني د نوموړي شورا مشر وټاکه، ګيلاني هم د يو جهادي تنظيم، ملي محاذ مشر ؤ خو له طالبانو سره د استاد رباني په شان په جګړو کې نه وو ښکېل.
ښاغلي ګيلاني لکه د نورو مشرانو غوندې د سولې په کار کې هيڅ ونه کړل او د ده له مړينې وروسته بل جهادي مشر هزاره توکمه، کريم خليلي د سولې عالي شورا مشر وټاکل شو چې دی هم د طالبانو سره جګړيدلی ؤ او د استاد برهان الدين رباني غوندې يې له امريکايانو سره په ۲۰۰۱ز، کې د طالبانو په ځپلو او پرځولو کې مرسته کړې وه.
بده خو لا دا چې مفکر صاحب اشرف غني د سولې کميسيون مشري د طالبانو درجه يک دښمن او د امريکايانو لومړی درجه غلام، ډاکټر عبدالله رنګيلا ته ورکړې وه، (چې تل د ښځو په څېر ځان سنګاروي او پرته له زناکاريو بل کسب او کار نه لري) ومو ليدل چې دا د ډاکټر عبدالله رنګيلا د سولې برکت ؤ چې هم يې ولسمشر غني ته ليونی منده ورکړه، هم يې خپل ځان له طالبانو سره يرغمل کړ.

کله چې امريکايان په دې پوه شول چې په افغانستان کې طالبان له منځه نه شي وړلی نو د جګړې د پای ته رسولو په موخه يې سياسي هلې ځلې پيل کړې. د حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال داسې نظر ؤ چې طالبان دې يو ښکاره ادرس ولري نو د سولې خبرې به په ښه توګه پيل شي په دې موخه په ۲۰۱۲ز، کال کې د امريکايانو او قطر په مرسته، د قطر په پلازمينه دوحه کې د طالبانو دفتر پرانيستل شو، په هغه ودانۍ کې د طالبانو رېپې (بيرغ) پورته شو او په لوحه يې (د افغانستان اسلامي امارت) وليکل شو.
ولسمشر حامد کرزي په دوحه کې د طالبانو د دفتر د لوحې مخالفت وکړ، حامد کرزي د سولې عالي شورا پلاوی چې دوحې ته روان ؤ وځنډاوه او له امريکا متحده ايالتو سره يې له امنيتي ستراتيژيک تړون څخه انکار وکړ چې له امله يې امريکايان تر فشار لاندې راوستل، د امريکا متحده ايالتو د بهرنيو چارو وزير جان کيري کرزي ته ډاډ ورکړ چې د ده هيواد د طالبانو د دفتر په هکله له افغانستان سره تولو ژمنو او ضمانتونو ته ژمن دی.
په افغانستان کې تش په نوم د سولې عالي شورا تولو ته مالومه وه چې هسې مړی خواره په کې راټول شوي دي پرته له دې چې لوړې تنخواوې واخلي، بې ځايه او بې ګټې سفرونه وکړي (چکرې ووهي) نور د ښمرې (کار) نه وو، نوموړې شورا د سولې پروسې ته د ګټې پر ځای زيانونه واړول، د دوی په شتون کې مخالفين ورځ تر بلې پياوړي شول، هر لوري ته افغانان وژل کيدل او د افغانانو وينې روانې وې. په ۱۳۹۶ل. ل، کې مشرانو جرګې د سولې په عالي شورا نيوکه وکړه او ويې ويل چې په شورا کې پرته له فساد بل څه نه شته، د کاپيسا استازي مولوي غلام محی الدين منصف وويل چې ډېری هغه وسله وال مخالفين چې د سولې له بهير سره يو ځای شوي وو، د دغې شورا د بې پروايۍ له امله بېرته د دښمن له ليکو سره يو ځای شوي دي او يا د وسله والو مخالفينو له خوا وژل شوي دي.
(پژواک، ۲۰ چنګاښ، ۱۳۹۶)
د امريکا متحده ايالتو ولسمشر جوزف (جو) بايډن چې يو لنډ فکره او منفي اوبدونکی او د انګلستان يو ايرلنډی کينه کښ (عقده يي) انګرېز توکمه سياستوال دی، هغه مهال چې نوموړی د اوباما مرستيال ؤ، ولسمشر اوباما لا سپينې مانۍ ته نه ؤ تللی چې جوبايډن يې افغانستان او پاکستان ته د ملوماتو د راټولولو په موخه ولېږه، جوبايډن په افغانستان کې هر څه تور او سپين (منفي) ليدل او په پاکستان کې هر څه رنګين ورته ښکاره شول هغه وو چې د اوباما اړيکې له ولسمشر کرزي سره خړې پړې شوې.
په دې اړه د حامد کرزي د دفتر مشر او د هغه مهال د اطلاعاتو او فرهنګ وزير عبدالکريم خرم وايي چې اوباما د امريکا متحده ايالتو تګلاره په افغانستان کې داسې لوبوله چې کابل ته په کې هيڅ ګټه نه وه او ځکه خو د ولسمشر


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ



کرزي اړيکي ورسره سمي پاتي نه شوې، اوباما هڅه وکړه چي يو لړزان حکومت په افغانستان کي راولي او په ۲۰۰۹ز، کال کي يې ټاکني جنجالي کړې.
ښاغلی خرم وايي:«د اوباما د تحليف مراسم لا نه وو ترسره شوي چي جوبايډن کابل ته راغی، د شپې ورته ښاغلي کرزي ميلمستيا کړي وه، د ډوډۍ پر ميز د جنجال غږ پورته شو، بايډن پورته شو ويې ويل: ستاسو په تناسب پاکستان پنځوس چنده ښه دی، دسمال يې وغوځولو او له ارګه ووت.» (بي، بي، سي، د جنورى ۲۰/ ۲۰۱۷ز)

لږ وروسته ولسمشر اوباما د افغانستان د بګرام اډې ته راغی، خپلو عسکرو ته يې ښې غوړې وکړې چي ګواکي له طالبانو سره په جګړه کي بريالي دي.

د هغو اختلافاتو له امله چي د اوباما د مرستيال (جوبايډن) د غلط تحليل له کبله د اوباما او حامد کرزي ترمنځ راغلي وو، اوباما له حامد کرزي سره ونه ليدل او په دې پلمه چي په کابل کي بادونه او خړې لوخړې وې نو کابل ته يې تګ ونه شو، د کرزي وياند وويل چي ښاغلی کرزی د اوباما څخه په دې نه دی خواشيني چي له ده سره يې ونه ليدل وايي چي په ټيلفون يې خبرې ورسره وکړې.

اوباما د جوبايډن په لمسون حامد کرزي ته په دويم ځل ټاکنو کي مشکلات رامنځ ته کړل، له ډاکټر عبدالله يې ملاتړ وکړ خو ښاغلي کرزي مقاومت وکړ او بيا ځلي ټاکنو ته چمتو شو، دويم ځل ټاکني ترسره نه شوې او حامد کرزی ولسمشر وټاکل شو، ولسمشر حامد کرزي له امريکا متحده ايالتو سره تر پايه امنيتي تړون لاس ليک نه کړ خو کله چي اشرف غني ولسمشر شو، له هر څه يې لومړی نوموړی تړون لاس ليک کړ.
د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر پر ۳۰ د امريکا د متحده ايالتونو او افغان دولت ترمنځ امنيتي تړون لاسليک شو. په تړون کي څو ځله په افغانستان او نړۍ کي د سولي او امنيت د ټينګولو په هکله ژمني شوي وې خو امريکايانو د سولي په هکله داسي کوم کار ونه کړ چي د سولي په راوستلو کي مرسته وکړي. په تړون کي شوي ډېری ژمني سرچپه پلي کيدلي، داسي چي د افغانستان د خلکو او د دوی د کورونو خونديتوب او امنيت ته به پوره پام کيږي خو برعکس امريکايانو د خلکو کورونه پلټل او خلک يې وژل او د سولي او امنيت کوم څرک نه ترسترګو کيده.
د نوموړي تړون پر بنسټ د ۲۰۱۴ز، کال تر پايه د ايساف ځواکونه له افغانستان ووتل او ناټو اتحاد په رسمي توګه په افغانستان کي خپل جګړه ييز عمليات پای ته ورسول خو (۱۳۰۰۰) پوځيان يې د افغان پوځ د روزني او ترهګرۍ د ځپلو په موخه په افغانستان کي پاتي شول، د امنيت مسؤليت يې افغان ځواکونو ته رسماً ورپه غاړې کړ.
وړاندې له ۲۰۱۴ز، کال څخه چي بهرني ځواکونه له افغانستان نه وو وتلي، افغانان په ځانګړي توګه شمالي ټلواله د بهرنيانو په وتلو ډېر خواشيني او د امنيتي وضعيت له امله وراخطا وو چي هسې نه افغان ځواکونه به دفاع ونه شي کړای، د خلکو هغه انديښني سمي نه وې خو بيا هم امنيتي وضع خرابه شوه او په ۲۰۱۵ز، کال کي طالبانو د کندوز ښار د لومړي ځل لپاره لاندي کړ.
د امريکا متحده ايالتو ولسمشر ډونالډ ترمپ د خپلو انتخاباتي هلو ځلو پر مهال ويلي وو چي له افغانستان به پاتي امريکايي پوځي ځواکونه وباسي، کله چي نوموړی د امريکا ولسمشر شو، خپل زور يې په افغانستان کي وازمايلو، تر دې چي د امريکايانو تر ټولو ځواکمن بم، (جي، بي، يو ۴۳) د بمونو مور په نوم، بم يې هم وکاراوه، د ترمپ او د ده د حکومت چارواکي په دې پوه شول چي په افغانستان کي هر ډول نوي ټکنالوژي او پرمخ تللي وسلي کار نه ورکوي، ولسمشر ترمپ له ناچارۍ څو، څو ځله وويل:«امريکايي ځواکونو په افغانستان کي د پوليسو دندې ترسره کړي ده چي نور د پوليسو دنده نه شي ترسره کولی ... موږ به له افغانستانه ووځو.»

نوموړي وويل:«طالبان ډېر سرسخت، غښتلي او هوښيار خلک دي خو موږ هم غښتلي خلک يو؟!»

ولسمشر غني د سولي عالي شورا د لغوه کولو فرمان ورکړی چي نور دغه شورا لغوه او چارې به يې د سولي په چارو کي د دولت وزارت مخ ته وړي. خو وروسته ارګ دا خبره تصحيح کړه، چي شورا نه بلي د شورا دارالانشا رياست لغوه شوی دی. (۱۳۹۸/۵/۵ل. ل)

د ۲۰۱۹ز، کال د فبرورۍ په ۲۵مه نېټه د امريکا متحده ايالاتو او طالبانو ترمنځ د سولي خبرې په قطر کي پيل شوې وروسته د ډېرو پړاوونو له تېرولو د امريکا متحده ايالتو او طالبانو تر منځ د ۱۳۹۸ل. ل، کال د کب مياشتي په ۱۱مه نېټه د سولي هوکړه ليک د زلمي خليل زاد او ملا عبدالغني برادر له خوا لاس ليک شو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له زاليرلو مخکي په خير و لولئ



د هوکړه لیک په **لومړی برخه** کې راغلي دي چې متحده ایالتونه ژمنه کوي چې د دوی متحدین او ائتلافي شریکانو ټول پوځي ځواکونه او ملکي پرسونل ... به د دې هوکړه لیک له اعلان سره سم، په ١٤ میاشتو کې له افغانستان اوباسي. او په لومړنیو ١٣٥ ورځو کې به په افغانستان کې د متحده ایالتونو د ځواکونو شمېر (٨٦٠٠) تنو ته راټیټوي او د ایتلافي ځواکونو په شمېر کې به هم کمښت راولي.

د امریکا متحده ایالتونه او د هغوی متحدین به له افغانستان څخه خپل ټول پاتي ځواکونه په پاتي نهه نیمو میاشتو کې وباسي.

د هوکړه لیک به همدغه برخه کې وایي چې د طالبانو (٥٠٠٠) بندیان او تر زرو پورې حکومتي بندیان به د ١٣٩٨ل. ل، کال د کب میاشتي تر ٢٠مي نیټي پورې چې د بین الافغاني مذاکراتو لومړنۍ ورځ ده، خوشي کیږي. اړونده خواوې دا هدف لري چې په ورپسي درېیو میاشتو کې پاتي نور ټول بندیان هم خوشي شي.

طالبان ژمنه کوي چې د هغوی خوشي شوي بندیان به په دغه هوکړه لیک کې، شویو مسؤلیتونو ته ژمن وي او د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ته به ګواښ نه پېښوي.

د هوکړه لیک په **دویمه برخه** کې راغلي دي چې طالبان به په افغانستان کې د امریکایانو او د هغوی د متحدینو د امنیت له ګواښلو څخه د القایدې او هرې ډلې یا فرد مخنیوی کوي.

د تړون په **درېیمه برخه** کې راځي چې د امریکا متحده ایالتونه او طالبان یو له بل سره مثبتي اړیکي غواړي او هیله لري چې متحده ایالتونو او د بین الافغاني مذاکراتو له لارې تر جوړ جاړي وروسته د نوي افغان اسلامي حکومت ترمنځ اړیکي مثبتي وي. د امریکا متحده ایالتونه د بین الافغاني خبرو له لارې تر جوړ جاړي وروسته د نوي افغان اسلامي حکومت لپاره د بیارغولو اقتصادي مرستو غوښتنه کوي او په کورنیو چارو کې به یې لاسوهنه نه کوي.

د هوکړه لیک **څلورمه برخه** د افغان حکومت او طالبانو په مذاکرو، تل پاتي اوربند، د اوربند نیټه، څرنګوالی او د افغانستان د راتلونکي سیاسي نقشي، اړونده پرېکړو او تصیمونو پورې اړه درلوده چې له بده مرغه د هوکړه لیک څلورمه برخه عملي نه شوه.

امریکا متحده ایالتونو او طالبانو د دوحې په تړون کې افغان حکومت ته ونډه ورنه کړه، نو ولسمشر اشرف غني د هوکړه لیک هغه پرېکړه چې پنځه زره بندي طالبان به خوشي کوي ونه منله ویې ویل چې د امریکا متحده ایالتو او طالبانو تر منځ تړون په موږ پورې اړه نه لري خو په پای کې یې (د سولې مشورتي لویه جرګه) راوغوښتله، جرګې د ١٣٩٩ل. ل، کال د زمري په ١٩مه نیټه پرېکړه وکړه چې د طالبانو او دولت بندیان دې د دواړو لورو له خوا خوشي شي، د افغانستان ملت او دولت ته دې ډاډ ورکړی شي چې د طالبانو خوشي شوي بندیان، بیاځلي د جګړې ډګر ته ستانه نه شي، تل پاتي اوربند دې ټینګ شي، د سولې بین الافغاني مذاکرې دې پیل شي ... .

د دغه هوکړه لیک ژمني په بشپړه توګه پلي نه شوې په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر کې بین الافغاني خبرې پیل شوې په دې اړه، د ملګرو ملتونو پخواني استازي بیا د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د سولې روانو خبرو ته هیله مندي ښودلې او دا یې د جګړې ختمولو لپاره لومړنی ګام بللی دی. دا په داسي حال کې ده چې د حکومت او طالبانو تر منځ له تیرې یوې اونۍ راپدېخوا مخامخ خبرې پیل شوې خو تر اوسه د خبرو د اجندا په جوړولو هم نه دي بریالي شوي. (تاند ویبپاڼه، شنبه د سنبلې ٢٩)

طالبانو په خپلو ټولو لیدنو کتنو کې له هر څه لومړی د خپلو پاتي بندیانو د خوشي کولو غوښتنه کوله او بله غوښتنه یې دا وه چې نړیوال یې له تور لیسته وباسي. د ولسمشر غني حکومت چې هر څه یې د امریکا متحده ایالتو په لاس کې وو؛ د فشار له امله د طالبانو (٥٠٠٠) تنه بندیان خوشي شول چې ډېری یې مخامخ د جګړې لیکو ته ولاړل.

دا مهال طالبانو د امریکایانو له حماقت، په ځانګړي توګه د زلمي خلیل زاد له ناپوهی څخه ګټه واخیسته، ویې لیدل چې زلمی خلیل زاد، د دوی په ګټه او د افغان حکومت په زیان کار کوي نو د اشرف غني د حکومت د سولې له استازو سره یې یوازې غولوونکي خبرې کولې او هغوی یې مصروف ساتل، د ریښتینو خبرو پر ځای یې خپلو جګړو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په غیر و لولــئ

ته زور ورکړ، دا وجه وه چې د طالبانو او حکومت تر منځ د روغې جوړې خبرې چې د دوحې په تړون کې طالبانو منلې وې له ناکامی سره مخ شوې.

له بلې خوا امریکایې ځواکونه د خپلې وېرې له امله د غلو په څېر له خپلو پنډغالو څخه په وتلو کې وو. بي، بي، سي، خبر خپور کړ چې امریکایان د شپې په تیاره کې او له حال ورکولو پرته له بګرام اډې ووتل، امریکایان د جمعې سهار پر ۳ بجو له اډې وتلي وو خو افغان لوری څو ساعته وروسته د دوی له وتلو خبر شو.
افغان وسله وال ځواکونه په دې یوه شول چې بهرنیان په خپل غم اخته دي او په تېښته کې دي، د دوی هوایي ځواکونه لکه څه ډول چې اړتیا ده ملاتړ نه کوي نو په جګړه کې زړه نازړه او متزلزل شول، نه یې غوښتل له طالبانو سره جګړه وکړي او ځانونه بې ځایه ووژني. هغه وو چې لومړی په لیرې پرتو ولایتونو کې ولسوالیو د لږ مقاومت او یا پرته له جګړې سقوط وکړ. بي، بي، سي راپور خپور کړ، له افغانستان د بهرنیو پوځیانو وتلو سره هم مهاله طالبانو په وروستیو اوونیو کې ګڼو سیمو کې پرمختګ کړی او ادعا کوي چې شاوخوا ۱۵۰ ولسوالۍ یې نیولې دي.
د ولسوالیو له پرله پسې نیولو وروسته د هېواد ولایتونو یو په بل پسې طالبانو لاندې کړل، طالبانو وروسته له هرات او نیمروز ولایتونو، شمالي ولایتونه ونیول، طالبانو ویل چې موږ لومړی څکه شمالي ولایتونه ونیول چې امریکایانو غوښتل افغانستان په دوو برخو ووېشي. د طالبانو دا ادعا د امریکا متحد ایالتو ولسمشر جوبایډن له هغو څرګندونو سره اړخ لګوي چې، نوموړي په ۲۰۱۹ز، کال د سپتمبر په ۱۳ نېټه په یوه انتخاباتي مناظره کې ویلي وو:«په افغانستان کې د حل لاره فدرالیزم دی.» بایډن د افغانستان د تجزیې لپاره د حل لاره په هېواد کې د فدرالي نظام راوستل غوښتل. (بي، بي، سي فارسي)

د طالبانو ځواکونو پرته له پنجشېر ولایت څخه د افغانستان ټول ولایتونه ونیول او د کابل تر دروازو ورسیدل. (د اګست ۱۴/ ۲۰۲۱ز)

نېټه ۱۴۰۰/۸/۵ل. ل

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ